Portsmouth CITY COUNCIL

Ethnic Minority Achievement Service (EMAS)

The importance of home language
د کورني ژبه اهميت

www.portsmouth.gov.uk



په مکرر ډول پوښتل شوي پوښتنې
Frequently asked questions

Pashto

د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ اړيکه ونيسئ:

EDUCATION - Ethnic Minority Achievement Service (EMAS)
Floor 1 Core 5/6
Civic Offices
Guildhall Square
Portsmouth PO1 2AL

T: 023 9273 3130
E: general.emas@portsmouthcc.gov.uk
Website: http://www.emas.portsmouth.gov.uk/

ستاسو د کور ژبه مهمه ده. دا ستاسو او ستاسو د ماشوم/ورونو د هويت برخه ده

د دې ژوندي ساتلو لپاره

ستاسو ماشوم ته وخت ورکړئ چې د نورو ماشومانو سره لوبې وکړي چې ستاسو ګډه ژبه شريکوي

- په خلکو کې د خپلې ژبې له کارولو مه وېرېږئ.
- خپل ماشوم ته د هغو ژبو بېلابېل نومونه ور زده کړئ چې دوی يې شاوخوا اوري.
- له خپل ماشوم سره مرسته وکړئ چې په خپلو ژبو ويارې. دا به له هغه سره د قوي کلتوري هويت په وده کې مرسته وکړي.
- که ستاسو ماشوم د انګليسي کلمو کارولو ته ترجيح ورکړي، تاسو بيا هم کولی شئ ځواب ووايئ او هغه څه بيرته تکرار کړئ چې دوی په خپله ژبه ويلي

په ياد ولرئ:

- خپل ماشوم ته وګورئ چې خبرې کوئ. دا له هغه سره مرسته کوي چې ستاسو د مخ څرګندونه وګوري او تاسو څنګه ټکي جوړوي.
- کله چې تاسو يوځای لوبې کولی شئ خپل او ستاسو ماشوم لپاره "ځانګړي وخت" جوړ کړئ.

زما ماشوم کله چې خبرې کوي دوه ژبې سره ګډوي.
ایا هغه مغشوش دی؟
ستاسو ماشوم مغشوش نه دی، هغه په ساده ډول د ټولو هغو ژبو څخه کار اخلي چې هغه پوهیږي.

مونږ 6 میاشتې وړاندې انګلستان ته ورسیدو او زما ماشوم لاهم په ښوونځي کې خبرې نه کوي.
مونږ باید څه وکړو؟
دا د ماشومانو لپاره معمول دی، کله چې دوی یوازې ښوونځي ته راځي، د "خاموش پراو" څخه تیریږي چې څو میاشتې دوام وکړي. دا د دوی لپاره یو څه وخت نیسي چې د انګلیسي خبرې کولو لپاره کافي ډاډ احساس کړي.
دوی ته وخت ورکړئ، ملاتړ وکړئ او صبر وکړئ.

زما ماشوم د خبرې ستونزه لري مونږباید یوازې انګلسي خبرې وکوو په کورکي چې هغه ته کمک شي. هغې ډ ستونزې ته کولې شي چه مرسته شي.
هغه ماشومان چې له یوې څخه ډیرې ژبې زده کوي ځینې وختونه کولی شي د یو ژبو ماشومانو په پرتله لږ وروسته خبرې پیل کړي.
هغه ماشوم چې د وینا مسلې لري باید د ښه ژبې رول ماډلونو سره محاصره شي
یعنی د کور ژبه.

زما ماشوم/نور زمونږ په ژبه له ویلو ډډه کوي. څه باید وکړو؟
له هغوی سره په خپله مورنۍ ژبه خبرې وکړئ.
هڅه وکړئ د ټولنې نورو غړو سره لیدنه وکړئ .ترڅو دوی خبرو اترو ته وهڅوئ
حتی که ماشومان په خپله مورنۍ ژبه خبرې نه کوي، دوی بیا هم په کور کې د اوریدلو سره زده کوي.

ولې د ماشومانو لپاره دا ښه ده چې خپله مورنۍ ژبه وساتي؟
له یوې څخه د زیاتو ژبو زده کول د دوی د عمومي زده کړې لپاره ښه دي، دوی کولی شي د دواړو ټولنو له ټولو غړو سره اړیکه ونیسي او دا یو لوی مهارت دی چې د بالغ په توګه ولري.

ایا مونږ باید په کور کې په خپله ژبه خبرې وکړو یا باید په انګلیسي خبرې وکړو ترڅو زمونږ زوی/لور انګلیسي زده کړي؟
تاسو باید په کور کې په خپله ژبه خبرې وکړئ. ځومره چې لومړۍ ژبه قوي وي، د ماشوم لپاره د بلې ژبې زده کول اسانه وي.
په کور کې په انګلیسي خبرې کولو سره تاسو د دې خطر سره مخ یاست چې ستاسو ماشوم / ستاسو ژبه نه زده کوي او ستاسو د کلتور بډایه له لاسه ورکوي.